# راتلونکي نسل ته الګو شئ!




(ژباړه)

**(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنْفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ)** [تحريم: ۶]

**ژباړه:** *اې مومنانو ! خپل ځانونه او خپلې کورنۍ له هغه اور څخه وژغورئ، چې د سون توکي به يې انسانان او تيږې وي.*

په پورتني آيت کې مور او پلار د هغه مسوولیت او مهمې ژمنې، چې په دنيا کې يې د خپل اولاد د روزنې په وړاندې لرى اندېښنمنوي. په ځانګړي ډول په دغه وخت کې، چې سيکولري نظام په چټکۍ د پراختيا په حال کې دی. نو پر دغه اساس په مور او پلار لازمه ده، چې خپل اولاد د الله سبحانه وتعالی له معرفته خبر کړي.

کله چې دغه آيت **(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنْفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ)** نازل شو، له رسول الله صلی الله عليه وسلم نه پوښتنه وشوه، چې څنګه ځان او خپل اهل د جهنم له اوره وساتو؟ هغه وفرمايل:

**«تَأْمُرُنَهُمْ بِطاَعَةِ اللهِ و تَنْهَوْنَهُمْ عَنْ مَعَاصِي اللهِ»**

***ژباړه:*** *د الله سبحانه وتعالی پر اطاعت امر ورته وکړئ او د هغه له نافرمانۍ يې منع کړئ.*

نو ځکه مور بايد د خپل اولاد د روزنې په اړه ډېر اندېښمن وو ،تل په ښه کار امر ورته وکړو، له بده يې منع کړو او تل يې په ښو او بدو پوه کړو. دا لړۍ په کور پورې محدوده ده. مور او پلار هغه وخت خپل اولاد مکتب ته لېږلی شي، چې له دې نه يې پوره ډاډ يې ترلاسه کړی وي، چې اولاد يې د کايناتو له رب سره مينه او علاقه پيدا کړې او په ژوند کې يې موخه يوازې د الله سبحانه وتعالی رضا ده. لکه څنګه چې نن ورځ د فرهنګي تعليم په نامه، د ډرامو، موسيقۍ او نڅا سازمانونه جوړ شوي او ډېرې توصيې هم ورته کېږي. تر دې چې په پاکستان کې موسيقي، نڅا او د شپې تر ناوخته کنسرتونه جوړول پر يوه عادي کار بدل شوي دي.

د (NGO) راپور ښيي چې په اسلام اباد کې له (۴۴ - ۵۵) سلنه پورې غوره خصوصي زده کوونکي په نشه يي توکو اخته دي. نو پورتنی آيت بايد مور يوازې اندېښمن نه کړي، بلکې مور ته بايد د فاسد او سيکولر نظام په وړاندې د درېدو توان را کړي. د الله سبحانه وتعالی د آيتونو لوستل، نه يوازې مور د الله سبحانه وتعالی رضايت ته چمتو کوي؛ بلکې مور تشويقوي، چې راتلونکي نسل ته الګو هم وو.

**د حزب التحرير د مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**
**یاسمین «ملک»**
**د حزب التحرير د مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو څانګې غړې**
**۱۴۳۸هـ.ق، د رمضان ۲۱مه**
**۲۰۱۷م، د جون ۱۶مه**